## د افغانستان اسلامي امارت
## د امر بالمعروف نهی عن المنکر، جلب جذب او سمع شکایات وزارت

---

۱ : تلویزوني رسنۍ باید هر هغه فلمونه چې هغه د شریعت د اصولو او افغاني ارزښتونو خلاف وي خپاره نکړي .

۲ : هغه بهرني او داخلي فلمونه چې د پردیو کلتور او عننات په افغاني ټولنه کې خپروي او د ټولنې د بد اخلاق سبب ګرځي باید نشر نه کړي .

۳ : مزاحیه او تفریحي پروګرامونه باید داسې برابر نکړل شي چې د یو چا د تحقیر او سپکاوي لامل وي .

۴ : داسې ډرامې هم باید نشر ته ونه سپارل شي چې دیني شعائرو او یا هم انساني کرامت ته پکې سپکاوی وي .

۵ : د نارینه وو داسې فلمونه او ویډیوګانې باید نشر نشي چې عورتونه یې پکې بربنډ وي .

۶ : په تلویزوني رسنیو کې ښځینه خبریالانې باید اسلامي حجاب رعایت کړي.

۷ : داسې ډرامې او تمثیلي پروګرامونه باید نشر ته ونه سپارل شي چې تمثیلونکي یې ښځې وي .

۸ : هغه سریالونه چې د انبیاؤ یا صحابه کرامو تمثیل په کې شوی وي او تصویري شکل ولري مطلقاً یې نشرول منع دي .